# د رحمن بابا د شعرونو بیلګی

## غزل

سپین مخونــــــه تور کودي شي په پیری کې
سم قدونه کوږ لـــــــرګـــــي شي په پیری کې
لکه شمع د سحــــــر آفـــــــتاب د ژمــــــي
هم بې تاب و هم زېړئ شي پـــــــه پـــیری‌کې
یو طرف ته ئې سر رېږدي بل خــــــوادرومــــي
خپل صورت تمام پردئ شي پــــه پــــیری‌کې
مړ لا نه وي پس له مرګه بیا ژونــــــدئ شــــي
نشته دا چې خوک زلمئ شي پــــه پــــیری‌کې
که څه وخوري لــــــــکه زهــــرنــــــه درېږي
نه څه خښئ او نه خوړئ شي پــــه پــــیری‌کې
دا څوانې ده چې څه آورې یا خـــــه وینــــــې
نه لیدئ نه آورېدئ شي پــــه پــــــیری‌کــــې
ای رحمانه پیری هــــــسې عـــــاجــــزي ده
که رُستم وي زړه پرې سوئ شي په پیری کې

## غزل

سپین مخونــــــه تور کودي شي په پیری کې
سم قدونه کوږ لـــــــرګـــــي شي په پیری کې
لکه شمع د سحــــــر آفـــــــتاب د ژمــــــي
هم بې تاب و هم زېړی شي پـــــــه پـــیری‌کې
یو طرف ته یې سر رېږدي بل خــــــوادرومــــي
خپل صورت تمام پردی شي پــــه پــــیری‌کې
مړ لا نه وي پس له مرګه بیا ژونــــــدی شــــي
هیڅ خوک نسته چی بیا څوان شی په پیری کی

## غزل

که نظر پــــــه مـــــاتــــــو ګوډو د روزګار کړې
هومره نه دی چې حســـاب یا به یې شمار کړې

په هر غم کې خـــامــــوش اوسه او که نه وي
د بدخواه خاطر به ښـــــاد دوست به آزار کړې
صبر ونیسه په مــخ کــې مُـــــراد غــــواړه
په تلوار به هېڅ ونکړې کـــــه تـــــلوار کړې
رضا پاسله قضا تــــــه فــــــراغــــت شــــه
او که نور څه نور څه وایې ځان به خـوارکــړې
آزادي او کاروبــــــار دې ســــــــره لـــــرې
لاس له کاروباره وکاږه کـــــه کــــــار کــړې
چې په خپـــــله یــې فـــــاني بولې رحمانه
ته و بیا څه په هغو چارو اعتـــــــبا ر کــــړې

## مه کوه جفا

راشه مه کوه له جا سره جفا
لږ ژوندون دی ضایع کېږي بې وفا
په دنیا کې هیڅوک نه دي پاتې شوي
واړه تلوني دي که نن دي که سبا
دا یاران چې نن و تا وته جلوه کا
په دوه ورځې پس به واړه شي فنا
که دیدن د دوی دې خوښ وي ورته ګوره
چې فنا شي، بیا به کله شي پیدا
د خزان پاڼه چې بېله شي له ځانه
په حکمت به یې پیوند نه کا حکما
چې په ځمکه خاځکی پرېوزي له اسمانه
بیا له ځمکې ختای نشي په سما
ګومان مکړه، چې بیا سترګو لره درشي
هغه اوښې چې له سترګو شي جدا
دا په هره ورځ چې خېژي بېل بېل لمر دی
هرچې پرېوزي، هغه نشي ختای بیا
که جنت په زهد نه دی، بې له فضله
هر سړی دې خپله غاړه کړي ادا
که د نس لپاره سل محنته وکړي
یو محنت به دې په کار نشي فردا
که تمام جهان پر خپله ګېډه وخوري
یاد به نشي په درود او په دعوا
که یوه دانه د وړي په لاس ورکړي
هم دغه به دې توښه شي د عقبا
که یو څاڅکی اوبه ترې لره ورکړې

HOWD
هود

د دوزخ او ستا در منځ به شي دریا
که یو ځله سر د خدای لپاره ټیټ کړې
په قیامت به سربلند شې په هرچا
بازار دا دی، که څوک سود او سودا کاندي
په هغه جهان نه سود شته نه سودا
اشنایان که څوک پوهېږي، نن یې وقت دی
چې ځارېږي یو اشنا تر بل اشنا
که ژوندون دی خو همدا دی په جهان کې
چې له چا سره تېرېږي په خندا
سود او زیان د دنیا واړه سهل کار دی
خدای دې نه کا څوک په سهل کار رسوا
چې د ورور او د عزیز زړه پرې ازار شي
حاصل مه شه هغه خپله مدعا
ګاه د نورو رضا بویه ګاهي خپله
په کار نه ده، همېشه خپله رضا
ښه خواږه چې یو یې خوري، بل ورته ګوري
خواږه نه دي، هغه زهر دي ګویا
چې ښادي یې یو زمان وي، غم تر تله
دغه هسې چارې نه کاندي دانا
لکه ځان هسې و بل وته نظر کړه
لکه ستا دی هسې ځان دی د هرچا
منصفانو لره بویه چې انصاف کړي
نه چې نغوته کا د حرص او د هوا
د سړي په خاطر هرڅه هرڅه ګرځي
هسې نه چې واړه وګڼې روا
دینداران دي و خپل دین وته نظر کا
څوک فکرونه د ثواب څوک د خطا
خدای دې نه کاندي خطا له چا له لاسه
څه نسبت دی د خطا او د عطا
هسې نه چې سړي واړه سره سم دي
څوک اعلی دي، څوک اوسط دي، څوک ادنی
د هرچا حرمت په خپله اندازه دی
نه چې مومي نفر ځای د امرا
زه رحمان له چا شکوه شکایت نه کړم
نشته بل دوست او دښمن زما بې تا

## ښه ده دا دنیا

HOWD هود

ښه ده ښه ده دا دنیا
چې توښه ده د عقبا
مذمت د دنیا مه کړه
واوره پند کړه دا وینا
د دنیا په بازار کېږي
د هغه جهان سودا
په دنیا کې ډېر حکمت دی
پرې پوهېږي حکماء
که تر سر یې صدقه کړې
رفع دفع کړي بلا
که غلیم لره یې ورکړې
غلیم دوست کا په هوا
که په اور باندې یې کېږدې
بوی د عودو کړي پیدا
که یې توی کړې په صحرا کې
ښایسته کاندي صحرا
که یې نذر کړې د پیر ته
خوشحال درومي په خندا
خو ژوندی یې په دنیا کې
یادوي دې په دوعا
د حاتم په خبر دې ستایي
خطاب درکړي د سخا
سخي هر ځای دوست د خدای دی
ولو کان فاسقا
هر بخیل د خدای دښمن دی
و لو کان زاهدا
دنیا کښت د آخرت دی
دا خبره ده ریښتیا
د نیا طالبان ډېر دي
که یې مومي څوک له چا
ولې مرد پکې هغه دی
چې سخي وي هم پارسا
په دنیا کې بدي نشته
که بدي نه وي له تا
دنیا بحر دی بهېږي
آینه غوندې صفا
خیل خیل مخ پکې لیده شي
که څوک زشت وي، که زیبا
هم خطر پکې د شر شته

هم ګوهر دی بې بها
وفادار لره وفا شوه
جفاکار لره جفا
له یوه مخه یې درد وي
له بل مخه یې دوا
چېرته خوند کاندي د زهرو
چېرته خوند کا د حلوا
کار همه واړه موقوف دی
د سړي په مدعا
مالکان دې ننداري شي
د خپل ځان په تماشا
هر چې کا هغه به مومي
دنیا ځای دی د جزا
لکه دی هسې به پاځي
که نادان وي، که دانا
که دانا وپوهېږه
په روا په ناروا
فتوا ونیسه په مخ کې
پسې مټ کړه په تقوا
دنیا نه ده، واړه دین دی
چې له نهیې وي، سوا
وطاعت وته ولاړ وي
همېشه تړلې ملا
له حرامو یې پرهېز وي
مشغول وي په پنج بنا
کلیمه یې وي قبوله،
هم په جهر په اخفا
د دنیا د کار لپاره
فرض لمونځ نه کاندي قضا
هم صائم د رمضان وي
هم زکات کاندي ادا
که یې توان د حج رسېږي
حج هم وکړي پسې بیا
دا پنځه بنا د دین دي
چې بیان یې وکړ ما
چې یې یون په دا طریق وي
هغه کس دی اولیا
که یې مال د دنیا ډېر وي
هیڅ دې نه کاندي پروا

HOWD هوډ

دنیا بده د هغو ده
چې یې کسب وي ریا
یا یې ټوله کا په ظلم
یا د خمرو په سودا
یا یې ورکا په شرابو
یا یې ورکا په زنا
یا ناحق خونونه کاندي
یا مالونه خوري د چا
عبادت کا په ځان فرض
د پادشاه د امرا
حق باطل کا، باطل حق کا
په سبب د روی ریا
نه یې وېره وي له خدایه
نه یې شرم نه حیا
د یوې کېږدې لپاره
هزار خونې کا بېدیا
همېشه یې له ستمه
واړه خلق وي په غوغا
ګوش و هوش یې هرګز نه وي
د مظلومو په ژړا
د فرعون په خبر به ناست وي
بې پروا و کبریا
بتخانې و ته یې مخ وي
و مسجد و ته یې شا
اختلاط کا له بدانو
له نېکانو وي سوا
هیڅه نه وي په خاطر کي
تولاً و تبرا
و رحمان ته پېښه مه کړې
خدایه هسې رنګ بلا

## غزل

خوی که په دا شان وي دل ازار ستا
څه شادي به کاندي طلبګار ســـتا

حیف چې اورېدی شي لیدی نشي
حسن لطافت دې پریوار ستا

بیا دوباره نه ګوري وبل ته
هر چا چې لیدلی دې رخسار ستا

خدای زده چې ته یار د کوم یوه یې
هر طرف یاران دي صد هزار ستا

ځای د پښو ایښودو مونده نشي
هومره عاشقان دي په دربار ستا

بل هسې نه وي که یې خدای کا
ما غوندې خاکسار او هوادار ستا

عشق له حسنه، حسن دی له عشقه
ته نګار زما یې، زه نګار ستا

ته زما مطلوب یې زه طالب یم
ته زما طبیب یې زه بیمار ستا

ته که تازه ګل د نوبهار یې
زه یم عندلیب په لاله زار ستا

جور که جفا ده که ستم دی
واړه مې منلي دي یکبار ستا

جور په چا خوک په بها پیري
زه یم د جورونو خریدار ستا

یو تار که ضایع شي ستا د زلفو
ځان به صدقه کړم تر هر تار ستا

سل ازمایښتونه دې راوکړه
حیف دی چې لا نشي اعتبار ستا

تېر یم زه "رحمان " له هره کاره
اوس مې ملا تړلې ده په کار ستا

## غزل

نن نګار وماته راکړ دیارې خط

وې ئې واخله دامې دی ددلدارې خط

دغماز له دوراهیه ترهه وکړه

HOWD هود

ځای به بایلي دمکار په جوارې خط

چيرې نه وي چې  يې خيرې په غفلت کړې

تل ئې لوله په تميز په هوښيارې خط

په مدت سره به ستا انجام ته رسي

اسان کله دی دا ستا دربارې خط

دغفلت له خوبه پاځه بيداري کړه

تل وتاته سپارلې دبيدارې خط؟

برابر دخط په حکم قدم کيږده

که ته غواړې په عقبی دنامدارې خط

له ميزانه که امان غواړی رحمانه

تل خو لوله  په ډير عجز په زارې خط

## غزل

چي مدام د بل و عيبو ته نظر کړې
خدای د خپله عيبه ولي بې خبر کړې
که يوه جودانه عيب وينې په بل کښي
هغه يو جودانه عيب به يې لوی غر کړې
که دي خپله ګناه لويه لکه غر وي
په حيله حيله به غر د مچ وزر کړې
که څوک تله د انصاف په لاس کښي در کړي
خپل ښتو او د بل اس به برابر کړې
تو لعنت دي په دا هسي منصفي شه
چي د حقه و باطل و ته ګذر کړې
تا ته رب د ملايکو مقام در کړ
تا دا خپل صورت پښپله ګاو و خر کړ
که دي يو وښته د ځان د پاسه کوږ شي
ځان هغه ساعت له خدايه مرور کړې
د ځوانی عمر دي تېر کړ په غفلت کښي
په پيري کي به څه زېرمه د محشر کړې

HOWD
هود

په پیري کښي د ځوانی چاري نه ښايي
ته په ورځ د عاشوري به څه اختر کړې
لکه بېخ د زړې وني چینجي وخوري
په دا تبر عمر به څه ښاخ و ثمر کړې
دغه باغ به دي خلاص نه شي له خزانه
که چاپېر ور ځني سد د سکندر کړې
و بد خواوو ته هیڅ څوک نصیحت نه کا
رحمان ستا په غم شریک دئ که باور کړې

## غزل

که دا ستا د خاطر مینه په اغیار وي
ستا د پاره دې اغیار هم زما یار وي
هر سړئ چې په یو مخ باندې مئین وي
له یوه مخه ځې سل مخه پکار وي
هر چې کاندي نوکري د پاچاهانو
خواه مخواه به د دربانو منت بار وي
زه با ستا له رقیبانو څه مانه کړم
دا دستور دی چې له ګُله سره خار وي
څو سل خاره ئې ښخ نه شي په ټټر کې
کله وي چې د بُلبُل و ګُل ته لار وي
سجاده به د ساقي د لاړې فرش کا
هر صوفي چې د سرو سترګو خریدار وي
په جذبه د عاشقۍ به لیونئ شي
که په قطع افلاطون غوندې هوښیار وي
په رحمان باندې به هېڅ ملامت نه کا
هر سړئ چې ستا له مخه خبردار وي

## غزل

سپین مخونه تور کودي شي په پیری کې
سم قدونه کوږ لرګي شي په پیری کې
لکه شمع د سحر آفتاب د ژمي
هم بې تاب و هم زېړئ شي په پیرۍکې
یو طرف ته ئې سر رېږدي بل خوادرومي
خېل صورت تمام پردئ شي په پیرۍکې
مړ لا ښه وي پس له مرګه بیا ژوندئ شي

نشته دا چې ځوک زلمئ شي پـــه پـــيرۍکې
که څه وخوري لـــــــکه زهـــــرنـــــــه درېږي
نه څه ښنئ او نه خوږئ شي پـــه پـــيرۍکې
دا ځواني ده چې څه آوري يا ځـــــه وينـــــــې
نه ليدئ نه آورېدئ شي پـــــه پـــــيرۍکـــې
اى رحمانه پيرى هــــــسې عـــــاجـــــزي ده
که رُستم وي زره پرې سوئ شي په پيرى کې

## غزل

که نظر پـــــه مــــاتـــــــو ګوډو د روزګار کړې
هومره نه دى چې حســـاب يا به ئې شمار کړې
په هر غم کې خـــــامــــــوش اوسه او که نه وي
د بدخواه خاطر به ښـــــــاددوست به آزار کړې
صبر ونيسه په مـــــخ کـــې مُــــــراد غـــــواړه
په تلوار به هېڅ ونکړې کـــــــه تــــــلوار کړې
رضا پاسله قضا تـــــــه فـــــــراغـــــت شـــــه
او که نور څه نور څه وائې ځان به خوارکـــړې
آزادي او کاروبـــــــار دې ســــــــــره لـــــرې
لاس له کاروباره وکاږه کـــــه کــــــار کـــړې
چې په خپـــــله ئـــــې فــــاني بولې رحمانه
ته و بيا څه په هغو چارو اعتــــــبار کـــــړې

www.howd.org